


**Kardan Journal Law (KJL)**

ISSN: 2707-3181 (Print and Online), Journal homepage: https://kardan.edu.af/KJL

# The Crime of Abortion in Afghan Criminal code vis-a-vis Islamic Law

**Abdullah Fazelyar**

**To cite this article**: Fazelyar, A. K. The crime of abortion in Afghan criminal code vis-a-vis Islamic Law, *Kardan Journal of Law*, (2022), 4 (1), 39-65.
DOI: 10.31841/KJL.2022.21

**To link to this article**: http://dx.doi.org/ 10.31841/KJL.2022.21

*© 2022 The Author(s). This open access Article is distributed under a Creative Commons Attribution (CC-BY) 4.0 license.*

*Published online: 25 December 2022*

*Submit your article to this journal*

# اجهاض)د جنين له منځه وړل (او مجازات يې د اسلامی شريعت او د افغانستان د جزاء د کود په رڼا کې

**عبدالله فضليار**

## لنډيز

*د اسلامي شريعت له مقاصدو څخه يو هم د انسان د ژوند ساتنه ده، د انسان د ژوند له لومړيو مراحلو څخه هغه د جنين مرحله ده چې په اسلامي شريعت او د افغانستان جزا کود کې ورته ځانګړې پاملرنه شوې، دا څېړنه د توصيفی او تحليلي میتود څخه په ګټه اخيستو د اسلامي شريعت او جزا کود په رڼا کې د يادې مرحلې احکام او پروړاندې يې د تجاوز مجازات په ګوته کوي.داسې ښکاري چې دې مرحله کې انسان لومړی نطفه وي بيا علقه بيا مضغه بيا هډوکی بيا ورته غوښته وراغوستل کيږي، د قرآن کريم، صحيح احاديثو او طب علماوو د نظر پر بنسټ په جنين کې وروسته له ۴۰ ورځو روح پو کيږي، او له منځه وړل يې که د درملو په خوړلو،جراحي عمليات او او يا هم بله کومه لاره وي اجهاض بلل کيږي او د اسلامي شريعت له لحاظه حرامه کړنه او د قانون له لحاظه جرم دی، او مرتکب يې که هغه مور، متخصص داکتر او يا هم کوم بل څوک وي د شريعت له لحاظه د غره او کفارې په ورکولو سره له ميراث څخه محروميږي او د قانون له لحاظه د حالاتو پر توپير سره په طويل حبس، متوسط حبس او يا نقدي جريمه باندې محکوميږي، چې استثناء يې يوازې د مور د ژوند ساتنه ده چې جنين له منځه وړل ..مباح کوي*

**کيلي**: *.اجهاض، اسقاط، جنين، غره، اسلامي شريعت، جزاء کود*

## سریزه

حمد او ثناء د هغه ذات لره ده چې انسان یې له خاورې څخه پیدا کړ او بیا یې هغه ته کرامت ورپه برخه کړ او د خلافت په مقام یې ښایسته کړ، او بیا یې د ژوند د چارو د سمبالولو لپاره احکام او لارښوونې راولیږلې تر څو انسان هغه د خلافت مقام حفظ او حق یې اداء کړی.

د دې احکام څخه یو هم د انسان د ژوند ساتنه ده چې الله تعالی په خپل کتاب کې وربانديې تاکید کړی آن تر دې چې د یوه انسان د ژوند ژغورل یې د ټولو انسانانو د ژغورلو او د یوه انسان وژنه یې د ټولو انسانانو له وژنې سره پرتله کړې ده، د انسان د ژوند د ساتلو بحث د هغه وخت څخه پیل کیږي، کله چې انسان د مور په رحم کې مستقر شي، دا لیکنه هم د انسان د ژوندانه د دې مرحلې او احکامو په اړه بحث او څیړنه کوي، تر څو د جنین حالات او احکام یې د اسلامي شریعت او د افغانستان د جزاء کود په رڼا کې روښانه شي. د دې لیکنې لومړۍ برخه د جنین تعریف، مراحل د روح پو کېدل او احکام یې او دوهمه برخه اجهاض (د جنین سقط) تعریف، او تکلیفی حکم یې او دریمه برخه د جنین پر وړاندې د تجاوز د مجازاتو لپاره ځانګړې شوې ده.

## لومړی مبحث: جنین تعریف او مراحل یې

د څیړنې په دې مبحث کې د جنین تعریف، د جنین د ژوندانه مراحل او د روح پو کېدلو په اړه په لنډه توګه بحث ترسه کیږي، ځکه د جنین احکام د هغه د مراحلو په پرتله سره توپیر لري.

الف- د جنین تعریف: جنین په عربی ژبه کې د جنّ له لفظ څخه اخیستل شوی، او جنّ په لغت کې پټولو ته وایی، په همدې توګه جنیاتو ته ځکه جن وایي چې د بشر له سترګو څخه پټ دي،[1] او جمع یې اجنة دی لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلی: " {وَإِذْ أَنْتُمْ أَجِنَّةٌ فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ}[2] " ژباړه : او کله چې تاسو جنینونه وئ د میندو په رحمونو کې.

[1] لسان العرب,لمحمد بن مکرم بن علی، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى الإفريقى (المتوفى: 711هـ),الناشر: دار صادر – بيروت, الطبعة: الثالثة - 1414 هـ, ج 13 ص 92

[2] سورة النجم ، آيه ۳۲

د جنين اصطلاحی تعريف: جنين هغه حمل ته ويل کيږي تر څو چې د مور په رحم کې وي[3] نو که ژوندی تولد شو نو ماشوم دی او که له منځه لاړ، نو سقط ورته ويل کيږي او د جنين اصطلاحی معنی د لغوي معنی څخه خارجه نه ده.[4]

ب- د جنين مراحل د مور په رحم کې د قرآن کريم، احاديثو او عصري علومو په رڼا کې:

الله تعالي په بېلابېلو آيتونو کې د انسان د خلقت او پيدايښت په اړه خبرې کړي او انسان يې د خپل ځان د پيدايښت په اړه تفکر او تدبر ته رابللی دی، او د انسان د ژوندانه مراحل يې بيان کړي دي، لکه څنګه چې الله تعالی په سورت المؤمنون کې فرمايلی: (وَلَقَدْ خَلَقْنَا الإِنسَانَ مِنْ سُلالَةٍ مِنْ طِينٍ* ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَكِينٍ* ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ).[5]ژباړه: او يقينًا مونږ انسان د ختې له خُلاصې نه پيدا کړی دی- بيا مونږ هغه، نطفه (د مني يو څاڅکی) وګرځوله په مضبوط قرار ځای کې- بيا مونږ دغه نطفه د وينې ټوټه وګرځوله، ورپسې مونږ دغه د وينې ټوټه د غوښې وړه بوټۍ وګرځوله، ورپسې مونږ دغه بوټۍ هډوکي وګرځول، بيا مو هډوکو ته غوښه واغوستله، بيا مونږ هغه په بل تخليق کې پيدا کړ، نو الله ډېر برکت والا دی چې تر ټولو ښه پيدا کوونکی دی.

پاسنۍ آيت ته په کتلو سره د انسان د ژوندانه مراحل په دوو برخو ويشل شوي دي:

لومړۍ مرحله: د لومړی انسان (آدم عليه السلام )پيدايښت، چې الله تعالی هغه په بېلابېلو مرحلو سره پيدا کړ چې دا مرحلې هم په څلورو برخو ويشل شوي دي:

1. خاوره(تراب) لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلی دي: ( وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ إِذَا أَنتُم بَشَرٌ تَنتَشِرُونَ )[6] ژباړه: او يوه د هغه له نښو څخه دا ده چې تاسو يې له خاورې پيدا کړئ، بيا ناڅاپه تاسو بشر وئ چې خورېدلئ

[3] الموسوعة الفقهية الكويتية، ج: ۴۰ ص ۳۵۵

[4] معجم لغة الفقهاء

[5] سورة المؤمنون آيات ۱۲ الی ۱۴

[6] سورمة الروم آيه ۲۰

2. خټه (طين) لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلی: ( إِنَّا خَلَقْنَاهُم مِّن طِينٍ لَّازِبٍ )[7] . ژباړه : بېشکه مونږ دوی له سرېښناکې خټې نه پيدا کړي دي

3. پخه شوې خټه ( صلصال) لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلی دي: ( خَلَقَ الْإِنسَانَ مِن صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ )[8] ژباړه : انسان يې د کودرې په شان له وچې کړنګېدونکې خټې نه پيدا کړی دی.

4. د روح نفخ ( نفخ الروح) لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلی: ثُمَّ سَوّٰهُ وَنَفَخَ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِهٖ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ۗ قَلِيْلاً مَّا تَشْكُرُوْنَ[9] ژباړه: بيا يې هغه برابر کړ او په هغه کې يې له خپله روحه څخه پو کړل او د هغه لپاره يې غوږونه او سترګې او زړونه پيدا کړل (خو) تاسو ډېر لږ شکر وباسئ.

دوهمه مرحله: د انسان جوړښت د مور په رحم کې چې دا مرحله په شپږو برخو وېشل شوې ده

1. النطفة: نطفه په لغت کې لږو اوبو ته وايي چې هدف دلته د نارينه او ښځينه اوبه دی چې منی هم ورته ويل کيږي، او دا د انسان د ژوندانه لومړۍ مرحله ګڼل کيږي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي: (خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ فَاِذَا هُوَ خَصِيْمٌ مُّبِيْنٌ)[10] ژباړه : هغهٔ، انسان له نطفې نه پيدا کړی دی، بيا نو ناڅاپه دغه (انسان) ښه ښکاره سخت جګړه کوونکی دی. يادو اوبو ته ځکه نطفه وايي چې لږ وي.[11]کله چې د نارينه او ښځينه اوبه (د نارينه سپرم او د ښځې تخمه)سره يو ځای شي نو په لومړۍ سر کې يوه لويه حجره وي بيا د ورځو پر تېرودو سره دا حجرې زياتيږی او د توت د دانې شکل اخلي د همدې کبله ورته (Morula) وايې او په پنځمه ورځ د يو جرثومی توپ

[7] سورة الصافات آيه ١١

[8] سورة الرحمن آية ١۴

[9] سوره سجده آيت :٩

[10] سورة النحل آية ۴

[11] الموسوعه الکويته ،ج ۵٠ ص ٣٣۵

(Blastula) شکل اخلي چې د حجراتو تعداد يې د ۵۰ نه تر ۶۰ رسيږي او بيا په پنځمه ورځ د فرعی پایپ (Tubal Branch of Uterine) به واسطه رحم ته انتقاليږي.

2. العقلة: علقه چې جمع یې علقات او علق دی، غلیظی او ټینګې وینې ته ویل کیږي چې د انسان د پیدایښت یوه مرحله ګڼل کیږي لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي: ( **ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوَّى**)[12] ژباړه : بیا دی د وینې یوه ټوټه وه، نو الله تعالی دی پیدا کړ، وروسته یې پیدایښت برابر کړ.

دا مرحله د جنین د اوومې ورځې څخه پیل او د دریمې اونۍ پورې دوام لري او په دې مرحله کې جنین د رحم په دیوال پورې راځوړند وي او د کوچنیو رګونو په وسیله د رحم څخه تغذیه کیږي نو ددې لپاره علقه ورته وايي. په دې مرحله کې د علقې حجرات د یوبل څخه متمایز کیږي او په دریو برخو؛ خارجی طبقه (Ectoblast) وسطی طبقه (Mesoblast)داخلی طبقه (Entoblast) ویشل کیږي چې د هر یوه نه ځانګړې اعضاء جوړیږي.

3. مضغة: په لغت کې یوه ټوټه غوښې ته ویل کیږي، چې دا مرحله د دریمې اونۍ څخه پیل کیږي، په دې مرحله کې د جنین طول د دوو سانتیو په شاوخوا کې وي، او د ځینو غړو لکه سترګې، غوږونه، قلب عصبی جهاز جوړښت پیل کیږي او د ځینو نورو غړو لکه هډوکی، عضلات، تناسلی غړي او ځینو نورو غړو پیدایښت په راتلونکو مرحلو کې پیل کیږي نو د همدې کبله الله تعالی د مخلقة او غیر مخلقة (جوړه شوې او ناجوړې) تعبیر ورنه کړی دي، او په اوومه اونۍ کې د انسان جوړښت را ښکاره کیږي، لکه څنګه چې په صحیح مسلم کې د حذیفه بن اسید په حدیث کې راغلي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلی: اذا مر بالنطفة اثنتان و اربعين يوما... ژباړه : کله چې په نطفه باندې دوه څلوېښت ورځې تیرې شي نو ملائکه ورته راځی او شکل ورکوي او غوږونه او سترګې یې پیدا کیږي.

[12] سورة القيامة آية ۳۸

د دې مرحلې په اړه الله تعالی فرمایلی: ( **يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِنَ الْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنْ مُضْغَةٍ مُخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِنُبَيِّنَ لَكُمْ**)[13] ژباړه: ای خلقو! که تاسو د بیا راژوندي کېدو په اړه په شك کې یئ، نو یقینًا مونږ تاسو له خاورې نه پیدا کړي یئ، (ستاسو نیکه آدم) بیا (مو د هغه اولاده پیدا کړه) له یو څاڅکي (مني) نه، بیا له ټوټې وینې نه، بیا له یوې غوښې بوټۍ نه چې جوړه شوې او ناجوړه وي، د دې لپاره چې مونږ تاسو ته (خپل حکمت او قدرت) بیان کړو.

4. عظام(هډوکي):د جنین څلورمه مرحله هغه د هډوکو خلقت دی، چې وروسته له یوې ټوټې ژول شوې غوښې (Sclerotomes) یا هم مضغه څخه هډوکی راجوړیږي چې په لومړي سر کې ستون فقرات او بیا نور اسکلیت منځ ته راځي، د دې مرحلې په اړه الله تعالی فرمایلی: ( فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا)[14] ژباړه : وروسته مونږ دغه بوټۍ هډوکي وګرځوله.

5. فکسونا العظام لحماً(هډوکي په غوښه باندې پوښ کول) د انسان په خلقت کې یوه اړینه مرحله ده چې په اتمه اونۍ کې پای ته رسیږي چې دا مرحله د جنین آخری مرحله هم ګڼل کیږي[15] چې د دې مرحلې نه وروسته مرحلې ته حمیل(FETUS) ویل کیږي او د دې مرحلې په اړه الله تعالی فرمایلی دي:( ف فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا) [16]ژباړه : بیا مو هډوکو ته غوښه واغوستله.

6. خلقا آخر: دا مرحله د هغه وخت نه پیل کیږي چې هدوکي په غوښه وپوښل شي او په شپږمه میاشت کې که چیرې جنین د مور له رحم څخه بهر هم شي نو د ژوندي پاتې کېدلو امکانات یې ډېر دي، ځکه په دې وخت کې ماشوم کولای شي په مستقله توګه ساه واخلي او د دې مرحلې په اړه الله تعالی فرمایي: ( ثُمَّ أَنشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ

[13] سورة الحج آية ۵

[14] سورة المؤمنون آية ۱۴

[15] حمیل د دې مرحلی علمی نوم دي او جنین په عام مفهوم د نطفې له وخته پیل او پرتولد ختمیږي.

[16] مخکني

فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ)[17] ژباړه: بيا مونږ هغه په بل تخليق کې پيدا کړ، نو الله ډېر برکت والا دی چې تر ټولو ښه پيدا کوونکی دی.

ج- په جنين کې د روح پو کېدل

د روح د پو کېدلو د وخت په اړه د علماوو تر منځ اختلاف شتون لري، اما ټول علماء په دې متفق دي چې روح د جسم او شکل د بشپړ کېدو څخه وروسته- لکه څنګه چې د ابن مسعود رضی الله عنه حديث کې راغلی- پو کيږي، او دا چې جسم او شکل څه وخت بشپړ او د روح لپاره چمتو کيږي؟! نو د دې موضوع په اړه د علماوو نظريات په دوو برخو ويشو او ددوی دلايل څيړو او بيا يو راحج نظر پکې تعيين کوو.

لومړی نظر:جمهور فقهاء له احنافو، مالکيه وو، شافعيه وو، حنابله وو او ظاهريه وو نظر دا دي چې په حمل کې روح وروسته له څلورو مياشتو يا يوسلوشلو ورځو وروسته روح پو کيږي.

د دې نظر دلايل په لاندې ډول دي:

1. قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بن مَسعُود: حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ الصَّادِقُ المَصْدُوقُ، قَالَ: " إِنَّ أَحَدَكُمْ يُجْمَعُ خَلْقُهُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا، ثُمَّ يَكُونُ عَلَقَةً مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ يَكُونُ مُضْغَةً مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ يَبْعَثُ اللَّهُ مَلَكًا فَيُؤْمَرُ بِأَرْبَعِ كَلِمَاتٍ، وَيُقَالُ لَهُ: اكْتُبْ عَمَلَهُ، وَرِزْقَهُ، وَأَجَلَهُ، وَشَقِيٌّ أَوْ سَعِيدٌ، ثُمَّ يُنْفَخُ فِيهِ الرُّوحُ،"[18]

ژباړه : عبدالله بن مسعود وايي: موږ ته رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي، په داسې حال کې چې هغه رښتينی او رښتنی ګڼل شوي وه: ستاسو جوړښت د خپلې مور په ګېډه کې

[17] مخکنی

[18] الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه = صحيح البخاري المؤلف: محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي, الناشر: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤاد عبد الباقي)

الطبعة: الأولى، 1422هـ , ج 4 ,ص 111 , شماره حديث:3208.

المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم,

المؤلف: مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (المتوفى: 261هـ),الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت, ج 4 ص 2036 , شماره حديث:2643

په څلوېښتو ورځو کې راتوليږي. وروسته له هغې نه به علقه وي د هغې په شان، بيا به مضغه وی د هغې په شان، بيا به الله تعالى يوه فرښته راوليږي او هغه ته به د څلورو کلمو امر وشي او ورته وبه وويل شي: چې د هغه عمل، رزق، عمر، بدبخته وي او كه نيكبخته وي وليكه! بيا به په هغه کې روح پو شي.

2. وَ فِي حَدِيثِ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عِنْدَ ابن أَبِي حَاتِمٍ إِذَا تَمَّتْ لِلنُّطْفَةِ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ بَعَثَ اللَّهُ إِلَيْهَا مَلَكًا فَيَنْفُخُ فِيهَا الرُّوحَ فَذَلِك قَوْله ثمَّ انشأناه خلقا اخر وَسَنَده مُنْقَطع[19]

ژباړه: او د علي بن عبدالله په حديث کې چې له ابي حاتم د زوی څخه روايت دی راغلی دي: کله چې د نطفې څلور مياشتې بشپړ شي، نو الله تعالى به هغه ته يوه فرښته راولېږي چې په هغه کې به روح پو کړي، او دا د الله تعالى د قول (ثم انشأناه خلقا آخر) بيا موږ د هغه لپاره بل پيداښت ورکړو، هدف دی. د دې حديث سند منقطع دی.

د جمهورو علماوو نظر ته نيږدې ابن عباس رضى الله عنهما او ځينې حنابله علماء لکه ابن رجب حنبلی وايی چې په حمل کې روح وروسته له څلورو مياشتو او لسو ورځو پو کيږي[20] او د دوی استدلال د هغه ښځې عدت دي چې حامله نه وي او خاوند يې له خلوت يا مقاربت وروسته وفات شي.

دوهم نظر: ځينې معاصر فقهاء او ځينې د طب علماء په دې نظر دي چې په حمل کې وروسته له څلويښتو ورځو روح پو کيږي[21]، او په لاندې دلايلو باندې استدلال کوي:

1. عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ أَسِيدٍ، يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " يَدْخُلُ الْمَلَكُ عَلَى النُّطْفَةِ بَعْدَ مَا تَسْتَقِرُّ فِي الرَّحِمِ بِأَرْبَعِينَ، أَوْ خَمْسَةٍ وَأَرْبَعِينَ لَيْلَةً، فَيَقُولُ: يَا رَبِّ أَشَقِيٌّ

[19] فتح الباري شرح صحيح البخاري, المؤلف: أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي, الناشر: دار المعرفة - بيروت، 1379, ج 11 ص 486

[20] شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة، المؤلف: أبو القاسم هبة الله بن الحسن بن منصور الطبري الرازي اللالكائي (المتوفى: 418هـ)،الناشر: دار طيبة – السعودية، الطبعة: الثامنة، 1423هـ / 2003م، ج ۴ ، ص ٦۴٩

21 جامع العلوم والحكم لابن رجب الحنبلي ص:٥١ ، متى تنفخ الروح في الجنين، دشرف القضاة ص٧٣، قضايا طبية معاصرة في ضوء الشريعة الإسلامية جمعية العلوم الطبية الإسلامية المنبثقة عن نقابة الأطباء الأردنية .

أَوْ سَعِيدٌ؟ فَيُكْتَبَانِ، فَيَقُولُ: أَيْ رَبِّ أَذَكَرٌ أَوْ أُنْثَى ؟ فَيُكْتَبَانِ، وَيُكْتَبُ عَمَلُهُ وَأَثَرُهُ وَأَجَلُهُ وَرِزْقُهُ، ثُمَّ تُطْوَى الصُّحُفُ، فَلاَ يُزَادُ فِيهَا وَلاَ يُنْقَصُ "[22]

ژباړه : له حذيفه بن اسيد رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې نطفه په رحم کې مستقره شي نو فرښته وروسته له څلويښتو يا پنځه څلويښتو شپو رحم ته ننوځي. او وايي: ای ربه! بدبخته دي که نېکبخته؟ هغه ليکي، او بيا وايي: ای ربه! نارينه دي که ښځينه؟ نو هغه ليکي، او د هغې عملونه، اثر، اجل او رزق به وليکل شي، بيا به پاڼې وتړل شي، او هيڅ شی به په هغې کې اضافه يا کم نه شي."

2. عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا اسْتَقَرَّتْ النُّطْفَةُ فِي الرَّحِمِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا - أَوْ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً - بَعَثَ إِلَيْهَا مَلَكًا، فَيَقُولُ: يَا رَبِّ مَا رِزْقُهُ؟ فَيُقَالُ لَهُ، فَيَقُولُ: يَا رَبِّ مَا أَجَلُهُ؟ فَيُقَالُ لَهُ، فَيَقُولُ: يَا رَبِّ ذَكَرٌ أَوْ أُنْثَى؟ فَيُعْلَمُ، فَيَقُولُ: يَا رَبِّ شَقِيٌّ أَمْ سَعِيدٌ؟ فَيُعْلَمُ "[23]

ژباړه : له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې نطفه په رحم کې څلويښت ورځو يا څلويښتو شپو کې مستقره شي. نو يوه فرښته به ورته راوليږل شي، هغه به ووايي: ای ربه! د ده رزق څه دي؟ نو ورته وبه ويل شي، بيا به ووايي: ای زما ربه! د هغه اجل څه ده؟ نو ورته وبه ويل شي، بيا به وايي: "ای ربه! نارينه دی که ښځه؟ نو پوه به شي، بيا به وايي: "ای ربه، بدبخته دي که نېکبخته؟ نو پوه به شي.

د روح د پو کېدلو په اړه راجح نظر:

د پورتنيو علماوو نظريات او دلايلو له وڅېړلو داسې ښکاري چې دوهم نظر راحج دی او په جنين کې وروسته له څلويښتو ورځو روح پو کيږي، او دا د اوسني عصر د طب علماوو نظر هم دی، نو د لومړي نظر د دلايلو پر وړاندې ويلي شو چې لومړی حديث د سند او مصدر له لحاظه صحيح حديث دی او دلالت يې په يو سلو شلو ورځو باندې ضمنی دی او صريح نه

[22] صحيح مسلم , شماره حديث :2644

[23] مسند الإمام أحمد بن حنبل، المؤلف: أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني (المتوفى: 241هـ)، الناشر: مؤسسة الرسالة، الطبعة: الأولى، 1421 هـ - 2001 م، ج ۲۳، ص ۴۱۳ ، شماره حديث:15269

دی او د مثل ذلک(د هغې په شان) په زمان يا موده باندې تعبير کول صحيح نه برېښي ځکه کوم ترتيب چې په حديث کې راغلی دا ترتيب زماني ترتيب نه دي بلکې جمعی ترتيب ګڼل کيږي يعنی نطفه د علقه په شان او علقه د مضغې په شان دي ځکه په ټولو کې روح نه دی پو شوي. او دوهم حديث سند منقطع دی او د استدلال وړ نه دی، او بل دا چې دا دوهم نظر د قرآن کريم د آياتو څخه هم استنباط کېدای شي لکه څنګه چې الله تعالی په سوره المؤمنون کې فرمايلی: : (وَلَقَدْ خَلَقْنَا الإِنسَانَ مِنْ سُلالَةٍ مِنْ طِينٍ* ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَكِينٍ* ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ).[24]ژباړه: او يقينًا مونږ انسان د ختې له خُلاصې نه پيدا کړی دی- بيا مونږ هغه، نطفه (د مني يو څاڅکی) وګرځوله په مضبوط قرار ځای کې- بيا مونږ دغه نطفه د وينې ټوټه وګرځوله، ورپسې مونږ دغه د وينې ټوټه د غوښې وړه بوټۍ وګرځوله، ورپسې مونږ دغه بوټۍ هډوکي وګرځوله، بيا مو هډوکو ته غوښه واغوستله، بيا مونږ هغه په بل تخليق کې پيدا کړ، نو الله ډېر برکت والا دی چې تر ټولو ښه پيدا کوونکی دی.

چې په دې آيت کې الله تعالی د انسان د پيدايښت مراحل بيان کړي چې د لومړي انسان يعنی آدم عليه السلام پيدايښت له خاورې څخه شوي او بيا د نورو انسانانو لومړي مرحله نطفه بيا علقه بيا مضغه بيا هډوکي او بيا هډوکو ته غوښه آغوستل کيږي او بيا پکې روح پو کيږي چې د جنين د رشد او پيدايښت مراحلو ته په کتو سره د اوسني طب علماء نظر دا دي چې دا پورتنۍ مراحل د جنين د شپږمې نه تر اوومې اونۍ پورې بشپړ کيږي.[25] او بل دا چې دا نظر د امام مسلم د حديث په اساس چې د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روايت کوي إذَا مَرَّ بالنُّطْفَةِ ثِنْتَانِ وَأَرْبَعُونَ لَيْلَةً، بَعَثَ اللَّهُ إلَيْهَا مَلَكًا، فَصَوَّرَهَا وَخَلَقَ سَمْعَهَا وَبَصَرَهَا وَجِلْدَهَا وَلَحْمَهَا وَعِظَامَهَا، [26] ژباړه:کله چې په نطفه باندې دوه څلويښت شپې تېرې شي نو الله تعالی يوه فرښته را وليږي نو هغه د هغې شکل جوړ کړي او د هغه غوږونه، سترګې، پوستکی، غوښه او هډوکي پيدا کړي. هم تائيد شوي دي.

[24] سورة المؤمنون آيات ١٢ الی ١۴

[25] قضايا طبية معاصرة جمعية العلوم الطبية الإسلامية الأردنية .

[26] صحيح مسلم د حديث شمېره : 2645

## دوهم مبحث: اجهاض

الف- د اجهاض تعریف: اجهاض په لغت کی مصدر د لازمی فعل جَهَضَ نه دی، چې معنی یې د جنین لرې کول او یا اسقاط مخکې له وخت څخه دی.اجهاض د فقهاوو په اصطلاح سره : اجهاض د حمل لرې کول یا اسقاط ته وایی برابره ده که خلقت یې بشپړل شوې وي او که نه، مخکې له روح څخه وي او که وروسته، په قصد سره وي او که بغیر له قصده او یا هم په خپل سر سره.

اجهاض په عام مفهوم سره د حمل اسقاط کول دي مخکې له هغې نېټې څخه چې د ماشوم د ژوندي پاتې کېدلو امکان وي. او که چېرې اجهاض په خاصه اصطلاح سره یعنی د یوه جرم په توګه تعریف کړو نو ویلی شو چې اجهاض: د ښځې د حمل له منځ نه وړل او یا هم د رحم څخه رایستل مخکې له طبیعی مودې څخه په قصد او بغیر له اړتیا څخه دی.

احناف د اجهاض نه د یوه جرم په توګه په ( الجنایة علی ما هو نفس من وجه دون وجه) یعنی جنایت په هغه څه چې له یوې خوا نفس دی او له بلې خوا نه، تعبیر کوي، ځکه جنین له یوې خوا یو نفس دی ځکه یو انسان ګڼل کیږي او له بلې خواه نفس نه دي ځکه تر اوسه له مور څخه جلا شوی نه دی.[27]جمهورو فقهاوو د اجهاض نه په بېلابېلو الفاظو لکه : اسقاط، املاص، القاء او طرح باندې تعبیر کړی[28] چې یاد الفاظ ټول په یوه معنی باندې استعمالیږي.

د افغانستان د جزاء کود په ۵٦۹ ماده لومړۍ فقره کې د اسقاط جنین تر عنوان لاندې وایي:(۱)هغه کس چې د حامله ښځې جنین عمدا له منځه یوسي یا هغه د تولد له طبیعی موعد څخه د مخه راوباسي، د اسقاط د جنین د جرم مرتکب ګرځي.

[27] رد المختار علی الدر المختار شرح تنویر الابصار، لابن عابدین، محمد امین بن عمر الشهیر بابن عابدین(ت ۱۲۵۱) الناشر : مکتبه البابی الحلبی مصر، ج ٦ ص۵۸۷- شرح فتح القدیر ( علی الهدایه للمرغینانی) لابن الهمام، کمال الدین محمد بن عبدالواحد السیواسی(ت ٦۸۱) الناشر : دار الفکر بیروت، ج ۱۰ ص ۲۹۹ – مواهب الجلیل ( بشرح مختصر خلیل) لحطاب ابو عبدالله محمد بن محمد( ت ۹۵۴ ه) الناشر : دار الفکر بیروت ، ج٦ ص۲۵۷ – احیاء علوم الدین لابو حامد محمد بن محمد الغزالی( حجه الاسلام ) ( ت ۵۰۵) الناشر دار المعرفه بیروت ج ۲ ص ۵۸

[28] الموسوعة الفقهية الكويتية، وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية – الكويت،الطبعة: (من 1404 - 1427 هـ)، الطبعة الثانية، دارالسلاسل – الكويت، جلد:۲ صفحه:۵۷

**ب- د اجهاض شرعی حکم :**د اجهاض د تکلیفی حکم په اړه د علماءوو تر منځ اختلاف شتون لري چې د اجهاض د احکامو د ښه توضیح لپاره اجهاض حکم په دو مرحلو سره ویشو:

لومړۍ: د اجهاض حکم د روح له پو کېدلو څخه مخکې

مخکې له روح څخه د جنین د اسقاط په اړه علماء دوه نظره لري چې ځینې یې حکم په جواز او نور یې حکم په عدم جواز کوي، چې لومړۍ به د هغه علماوو نظریات او دلایل وڅیړو چې حکم په جواز کوي بیا به د دوهم نظر په اړه په همدې ډول څیړنه کیږي.

الف- یوه ډله فقهاء حکم په جواز د اسقاط کوي لکه ځینې احناف فقهاء -او دا نظر په مذهب کې مشهور هم ګڼل کیږي،[29] امام قرطبی د مالکیه وو څخه[30]، ابو اسحاق المروزی له شافعیه وو څخه[31]، په همدې توګه ځینې د حنابله وو علماء[32]او له معاصرو علماوو څخه دکتور محمد الاشقر، الدکتور محمد سعید رمضان البوطی[33] هم حکم په جواز د اسقاط کوي.

یاد علماء د روح د پو کولو څخه مخکې د جنین د اسقاط د جواز په اړه لاندې دلایل وړاندې کوي:

1. د پیامبر صلی الله علیه وسلم په حدیث استناد کوي چې فرمایلی یې دی: إِذَا مَرَّ بِالنُّطْفَةِ ثِنْتَانِ وَأَرْبَعُونَ لَيْلَةً، بَعَثَ اللَّهُ إِلَيْهَا مَلَكًا، فَصَوَّرَهَا وَخَلَقَ سَمْعَهَا وَبَصَرَهَا وَجِلْدَهَا وَلَحْمَهَا وَعِظَامَهَا، [34] ژباړه:کله چې په نطفه باندې دوه څلویښت شپې تېرې شي نو الله تعالی یوه فرښته را ولیږي نو هغه د هغې شکل جوړ کړي او د هغه غوږونه، سترګې، پوستکي، غوښه او هډوکي پیدا کړي.

یاد حدیث صراحت لري چې پر نطفه دوه څلویښت ورځې تېرې شي نو د هغه شکل، سترګې او غوږونه، جلد، غوښه او هډوکې پیدا کیږي نو مخکې له دوه څلویښت ورځو جنین یوازې

---

[29] شرح فتح القدیر، لابن الهمام ج ۲ ص ۴۹۵، و البحر الرائق لابن نجیم ج ۴ ص ۱۷۴

[30] الجامع لاحکام القرآن، للقرطبی ، ج ۱۲ ص ۸

[31] نهایة المحتاج ،للرملی ، ج۸ ص ۴۴۲

[32] کشاف القناع ،، للبهوتی، ج٦ ص ۵۴

[33] قضایا طبیة معاصره، ج۱ ص ۲٦٦ و مسالة تحدید النسل ، للدکتور محمد البوطی ص ۸۵

[34] صحیح مسلم د حدیث شمېره : 2645

يوه تېوته غوښه بلل کيږي او د انسان حرمت ورته نه ثابت کيږي نو په دې اساس سقط کول يې کوم جنايت اويا قتل نه بلل کيږي.

2. په عزل باندې د قياس په اساس، د جنين سقط کول مخکې له روح څخه جائز عمل ګڼل کيږي، ځکه که عزل -چې د نطفې له منځ وړل مخکې له رحم څخه -جايز وي نو په رحم کې يې له منځ وړل هم بايد جايز وي.

3. هر هغه څه کې چې روح نه وي پو شوي نو د قيامت په ورځ به هم نه راپاڅيږي او هر هغه څه چې نه راپاڅول کيږي، شرعی له لحاظه يې وجود اعتبار هم نه لري.[35]

ب- بله ډله فقهاء لکه ځينې احناف فقهاء [36]او په همدې توګه تر ډېره مالکی فقهاء [37]، ځينې شافعيه فقهاء لکه امام غزالی[38]، تر ډېره بريده حنابله علماء لکه چې ابن الجوزی را نقل کړي[39]، او اکثر معاصر علماء لکه دکتور حسن شاذلی، دکتور توفيق الواعی، دکتور محمد نعيم ياسين او نور علماء[40] حکم په عدم د جواز د اجهاض کوي که هغه مخکې له روح څخه وي او که وروسته.

ياد علماء د خپل نظر تائيد لپاره په لاندې دلايلو استناد کوي:

1. د اسلامي شريعت د اساسی موخو څخه د انسان د ژوند ساتنه ده او حفظ النفس د پنځګونو مصالحو څخه ګڼل کيږي، چې جنين هم د انسان د لومړيو مرحلو څخه ګڼل کيږي.

---

[35] الفروع لابن مفلح، ج١ ص ٢٨١ و الانصاف للمرداوي ج١ ص ٣٨٦.

[36] حاشية ابن عابدين ، ج٥ ص ٢٧٩

[37] حاشية الدسوقی، ج ٢ ص ٣١١، حاشية العدوي ج٢ ص ٢٤٨

[38] نهاية المحتاج ، للرملی ج٨ ص ٤١٦

[39] المغنی لابن قدامه ج ٧ ص ٨١٦، احکام النساء لان الجوزی ص ٩٩

[40] قضايا طبية معاصره ، جميعة العلوم الطبية ج ١ ص ٢٠٧ و ٢٢٣

2. اکثر نصوص[41] چې د اجهاض د تحريم په اړه راغلی، عام دي او مقيد تر يوې خاصې مرحلې پورې نه دي نو لکه څنګه چې د جنين له منځه وړل د مضغې (ټوټه غوښه) په وخت کې جائز نه دي نو په همدې ټوګه د نطفې پر وخت کې هم جائز نه دي.

3. د دې مرحلې د اجهاض حرمت په محرم باندې د ښکار د هګۍ د ماتولو حرمت باندې قياس، نو لکه څنګه چې محرم ته جايز نه دي چې ښکاری مرغه هګۍ ماته کړي نو په همدې توګه جايز نه دي چې د جنين له روح څخه مخکې سقط شي، چې د دواړو وجه يا علت د قياس هغه د په لومړيو مرحلو کې حرمت دی.

ج- راجح نظر

پورتنيو د علماوو نظرياتو او دلايلو ته په کتو سره داسې ښکاري چې د جنين له منځه وړل د شرعی عذر يا ضرورت نه پرته جايز عمل نه ګڼل کيږي، که هغه مخکې له روح څخه وي او که وروسته، په دې توپير چې د جنين له منځه وړل د روح څخه وروسته په اتفاق سره حرامه کړنه بلل کيږي او قباحت يې نور هم زياتيږي.

کله چې د نارينه نطفه د ښځې له نطفې سره په رحم کې يوځای شي نو د انسان د ژوندانه لومړۍ مرحله پيل کيږي او دې مرحلې ته بايد د احترام په سترګه وکتل شي او د شرعی عذر، ضرورت، خَلقی عيوب او د متخصص او عادل ډاکتر توصيې څخه پرته د هغې له منځه وړل سمه کړنه نه بريښي، د اسلامي نړۍ د اړيکو د فقهې مجمع په دولسم مجلس کې چې په مکه مکرمه کې ترسه شوې وه هم دا نظر تائيد کړي.[42] او بل دا چې که د روح څخه مخکې د جنين له منځه وړل په مطلقه توګه جايز وګڼل شي شايد ځينې مېندې او پلرونه د دې مسئلې نه سوء استفاده هم وکړي او د روح له پو کېدو څخه وروسته هم جنين له منځه څخه يوسې په دې ګمان چې شايد روح په جنين کې نه دي پو شوي او بل دا چې د روح پو کېدل بذاته يوه اختلافی هم مسئله ده.

[41] د هذيل د ښځې او د جنين ديت، او د

[42] : قرار مجمع الفقه الإسلام المنبثق عن رابطة العالم الإسلامي بمكة المكرمة والمنعقد بتاريخ -١٧ ١٩٩٠- وانظر: أيضاً قضايا طبية معاصرة جمعية العلوم الطبية الإسلامية ج ١ ص .٣١٤

دوهم: د جنين د اسقاط حکم وروسته د روح له پو کېدلوڅخه

د جنين له منځه وړل وروسته د روح له پو کېدلو څخه په اتفاق د علماوو حرام دي، او په حرمت يې فقهاء اجماع لري ځکه وروسته له روح څخه جنين يو نفس بلل کيږي او د نفس وژل د قرآن کريم په صراحت سره حرام دي.[43]

او په همدې توګه د جنين له منځه وړل په دې مرحله کې د شريعت د مقاصدو او روح سره هم په ټکر کې دي، ځکه د شريعت د موخو څخه يوه هم د نفس ساتل دي چې له منځه وړل يې د لاندې دلايلو پر بنسټ يوه حرامه کړنه بلل کيږي:

1 - الله تعالى په المائده سورت کې فرمايلى دي: مَن قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا.... الآيه[44]ژباړه : بېشکه خبره دا ده چې چا هم يو نفس له بدلې نه بغير، يا په ځمکه کې له ورانکارۍ نه بغير وواژه، نو ګويا کې هغه ټول خلق ووژل او چا چې د دغه نفس ژوند بچ کړ، نو ګويا کې هغه د ټولو خلقو ژوند بچ کړ.

2 - الله تعالى په الاسراء سورت کې فرمايلى دي: ﴿ وَلاَ تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ وَمَنْ قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ سُلْطَانًا فَلاَ يُسْرِفْ فِي الْقَتْلِ إِنَّهُ كَانَ مَنْصُورًا ﴾.[45]ژباړه: او تاسو هغه نفس مه وژنئ چې الله حرام کړی دی مګر په حقه سره (د قانون او قاضي د حکم مطابق) او څوك چې ووژل شي، په دې حال کې چې مظلوم وي، نو يقيناً مونږ د هغه ولي (وارث) ته پوره غلبه ورکړې ده، نو هغه دې په وژلو کې اسراف نه کوي، بېشکه دغه (وارث) مدد کړی شوی دی.

---

[43] الشرح الكبير المطبوع مع حاشية الدسوقي 2 / 267 ط عيسى الحلبي، وحاشية الرهوني على شرح الزرقاني 3 / 264 ط سنة 1306. وانظر البحر الرائق 8 / 233 ط العلمية الأولى، وحاشية ابن عابدين 1 / 602، 5 / 378 ط 1272، وفتح القدير 2 / 495 ط بولاق، ونهاية المحتاج 8 / 416 ط مصطفى الحلبي، وحاشية الجمل 5 / 490 ط الميمنية، وحاشية البجيرمي 3 / 303 ط مصطفى الحلبي، والزرقاني على التحفة 6 / 248، والإنصاف 1 / 186، والفروع 1 / 191، والمغني 7 / 815 ط الرياض، والمحلى 11 / 29 - 31 ط المنيرية سنة 1352

[44] سورة المائده آية ٣٢

[45] سورة الاسراء آية ٣٣

پورتنۍ آیتونه د نفس د وژلو پر حراموالی صراحت لري او جنین هم وروسته د روح له پو کېدلو څخه یو نفس بلل کیږي او د پورتنیو آیاتو په عام حکم کې داخلیږي.

اما د جنین د نمو پر وخت کې امکان لری ځینې فوق العاده یا اضطراری حالت مخ ته راشي چې د جنین له منځه وړلو متقضای وي لکه د مور ژوند ته جدی خطر، په جنین کې خَلقی عیوب او داسې نور موضوعات چې د انسان د ارادې څخه وتلی وي، نو آیا پر داسې حالاتو کې د جنین له منځه وړل جایز دي او که نه؟ د دې پوښتنې د ځواب په اړه علماء پر دووه ډلو ویشل شوي چې ځینې یې حکم په حرمت او ځینې یې حکم په اباحت کوي.

لومړی: ځینې علماء په دې نظر دي چې د جنین له منځه وړل د روح له پو کیدو څخه وروسته حرام دي، حتی که د مور ژوند ته خطر هم پیښ کړی لکه څنګه چې ابن عابدین وایی: که چیرې جنین ژوندی وي او په رحم کې پاتې کېدل یې د مور ژوند ته خطر پیښوي نو د هغه له منځه وړل او ټوټې کول جواز نلري ځکه د هغه پر بقاء د مور مړینه موهومه یا په شک کې ده او د یوه موهومې موضوع لپاره د انسان له منځه وړل جواز نلري.[46]او دا د جمهورو فقهاوو لکه احناف، مالکی، شافعی، حنابله او ظاهریه وو نظر دي، لکه څنګه چې محمد السنوسي په خپل کتاب کې الاجهاض بین الحظر و الاباحه کې را نقل کړي[47].

دوهم: د معاصرو علماوو لکه دکتور رمضان بوطی، دکتور عبدالفتاح محمود، دکتور صالح الفوزان، دکتور عباس شومان او تر ډېره حده د طب علماء وایي که چیرې په رحم کې د جنین پاتې کېدل د مور ژوند ته یقینی خطر وو نو د مور ژوند ته ترجیح ورکول کیږي او د جنین له

[46] الدر وحاشية ابن عابدين 1 / 602، وانظر البحر الرائق 8 / 233، والمجموع 5 / 301 ط المنيرية. واللجنة ترى أنه إذا كان الفقهاء منعوا هتك حرمة جسد الأم وهي ميتة وضحوا بالجنين الحي. فإن الحفاظ على حياة الأم إذا كان في بقاء الجنين في بطنها خطر عليها أولى بالاعتبار لأنها الأصل وحياتها ثابتة بيقين، علما بأن بقاء الجنين سيترتب عليه موت الأم وموت الجنين

[47] محمد السنوسي محمد شحاتة، الإجهــاض بين الحظر والإباحة، الإسكندرية: كلية الدراسات الإسلامية والعربية للبنات، صفحة 633-638. بتصرّف

منځه وړل جایز او حتی واجب دي، ځکه مور اصل او جنین فرع دی او د فرع د ساتلو لپاره د اصل له منځه وړل معقوله کړنه نه بریښي.[48]

یادو نظرونو او د مور او جنین د ژوند اهمیت ته په کتو سره ویلی شو چې مخکې له دې نه چې د مور یا جنین د ژوندی پاتو کېدلو په اړه کوم تصمیم ونیول شي باید په اړه یې هر اړخیزه څېړنه وشي او د طبي لازمو لاربښونو او لارو چارو څخه د مور او جنین د ژوند د ساتلو لپاره ګټه واخیستل شي اما که چېرې د دواړو د ژوندي پاتې کېدلو امکان نه وي نو بیا هرومرو د مور ژوند ته ترجیح ورکړل شي ځکه د مور ژوند یقین دي او د جنین ژوندي تولد کېدل شک دی او فقهی قاعدې له مخې (الیقین لا یزول بالشک)[49] چې یقین د شک په واسطه له منځه نه ځي، نو شک لپاره د یقینی ژوند له منځه وړل شرعاً جایز نه دي او په همدې توګه د فقهې قاعدې له مخې چې وایی: ( در المفاسد اولی من جلب المصالح)[50] یعنې د مفاسدو لېرې کول د مصالحو له لاس ته راوړلو نه مقدم دي. نو د مور د ژوند نه د خطر لېرې کول د جنین له ساتلو څخه اړین دي، او په همدې توګه د کوچنۍ ضرر په تحمل سره لوی ضرر دفع کیږي لکه څنګه چې فقهې قاعده وایی: (الضرر الاشد یزال بالضرر الاخف)[51] یعنې لوی ضرر د کوچنۍ ضرر په واسطه له منځه ځي، نو که د مور او جنین له منځه تلل سره مقایسه شي نو د مور له منځه تلل لوی ضرر دي د جنین په پرتله ځکه مور د کورنۍ تر ټولو اړینه برخه او تهداب ګڼل کیږي.

او په همدې توګه که چېرې د جنین له منځه وړل د مور د ژوند د ساتلو لپاره وي نو د قانون له لحاظه جرم نه ګڼل کیږي لکه د افغانستان د جزاء کود په ۵۷۱ ماده په څلورمه فقره کې وایی: که چېرې د جنین اسقاط مور ژوند ته د نجات ورکولو په منظور د طبیب په تجویز، د درملنې په منظور صورت موندلی وي، فاعل نه مجازات کېږي.[52]نو یاده ماده که څه هم په جنین کې د روح پوکېدلو موضوع یې مطرح کړې نه ده نو په مطلقه توګه ویلی شو چې که د جنین له

[48] مسألة تحدید النسل . محمد سعید رمضان البوطي .۸۵ قضایا طبیة معاصرة لجمعیة العلوم الطبیة الإسلامیة ۲۰۷ ۲۲۳.

[49] مجلة الاحکام العدلیة، څلورمه ماده

[50] مخکنی، دیرشمه ماده

[51] مخکنی، اوه ویشتمه ماده

[52] د جزاء کود ۵۷۱ ماده

منځه وړل د مور د ژوند د ساتلو لپاره وي كه هغه مخكې له روحه وي او كه وروسته له روحه شرعاً او قانوناً جايزه كړنه بلل كيږي.

## دريم مبحث: د اجهاض مجازات د شريعت او قانون له نظره

په دې مبحث كې پر جنين د جنايت يا له منځه وړو د حكم په اړه بحث تر سره كيږي، البته په هغه حالت كې چې بغير له ضرورته او په قصدي توگه له منځه ولاړ شي، نو دا مبحث په دوو برخو ويشل شوې دی.

لومړۍ برخه: د اجهاض مجازات د شريعت په رڼا كې

هر هغه څوک – د ډاكتر او والدينو په شمول -چې جنين له منځه يوسي او يا مخكې له وخته يې د مور له رحم څخه بغير له شرعی عذره جلا كړي د يوې لويې گناه مرتكب گڼل كيږي او د اخروي مسؤليت تر څنگ له قضايي پلوه مجرم او مجازات كيږي دا مجازات غره، كفاره، د ميراث څخه محروم كېدل او تعزير دي چې په دې مبحث كې وربانديې بحث ترسره كيږي.

**لومړی: غره**

غره – د غين په پيښ او د را په تشديد سره- په مال كې تر ټولو ښې او با ارزښته برخې ته ويل كيږي او په خلكو كې غره د قوم مشر او مخور ته وايي او په همدې توگه غره د هر شي لومړۍ برخې ته هم ويل كيږي چې په دې اساس غره ته ځكه غره وايې چې د ديت هغه تر ټولو كمه او لومړۍ برخه ده[53] او په اصطلاح كې غره د غلام، كنيزې او يا آس نوم دی چې د بشپړ ديت شلمه برخه گڼل كيږي[54] او يا هم غره هغه مال ته ويل كيږي چې پر جنين د جنايت وروسته د هغه ورثه ته وركول كيږي او اندازه يې د بشپړ انسان د ديت شلمه برخه ده.

الف- بد غره مشروعيت: غره د سنت او اجماع پر اساس ثابته ده چې دلته يې دلايل په مختصره توگه را نقل كوم:

[53] ابن منظور، لسان العرب ج٥ ص ١۴-١٦

[54] ابن قدامة. المغني، .٩/٥٣٧ زيدان، د. عبد الكريم زيدان، القصاص والديات في الشريعة الإسلامية، ط١ سنة ١٤١٨هـ ١٩٩٨م، مؤسسة الرسالة، بيروت، ص .٢٤٦

1. عن ابي هريرة رضي االله تعالى عنه انه قال: "اقتتلت امرأتان من هُذَيل، رمت إحداهما الأخرى بحجر فقتلتها وما في بطنها (وفي رواية: فطرحت جنينها)، فاختصموا الى رسول االله صلى االله تعالى عليه وسلم، فقضى ان دية جنينها غُرّة عبد او وليدة (امة)، وقضى بدية المرأة على عاقلتها[55]ژباړه: د ابی هريرة رضی الله عنه څخه روايت دي چې ويې ويل: د هذيل قبيلې دوو ښځو په خپل منځ کې جګړه وکړه، يوې پر بلې د ډبرې ګذار وکړ او هغه مېرمن او څه يې چې په خېټه (رحم)کې وو ووژل (او په يوه روايت کې راغلي دي: چې جنين يې وروباندې سقط کړ)نو دوی د خپلې شخړې د حکم په اړه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغلل او رسول الله صلی الله عليه وسلم حکم وکړ چې د جنين ديت يې غره (غلام يا وينزه) دي د ښځې د قتل ديت يې د قاتلې پر عاقله (خپلوانو) لازمي کړ.

2. عن عبد االله بن بريدة عن أبيه – رضي االله تعالى عنهما :- "أنّ امرأة حذفت امرأة - بعصا -فأُسقطت، فجعل رسول االله صلى االله تعالى عليه وسلم في ولدها خمسمائة – درهم . (وفي رواية: خمسين شاة).[56]"

ژباړه د عبدالله بن بريدة او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چې يوې ښځې بله په لښته يا لرګي ووهله او د هغې جنين سقط شو نو رسول الله صلی الله عليه وسلم د جنين د ديت په اړه پنځه سوه درهمو (په بل روايت کې په پنځوسو پسونو) باندې حکم وکړ.

3. ټولو صحابه وو رضی الله عنهم په دې اجماع درلودله که څوک جنين له منځه يوسي نو غره وروباندې واجبه ده.[57]

[55] البخاري، أبو عبد االله محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة البخاري، (ت ٢٥٦)، صحيح البخاري (بشرح فتح الباري لابن حجر)، ط١ سنة ١٤١١هـ١٩٩١م، دار الفكر، بيروت ،٢٦/٨٠ (ح٦٩١٠). مسلم، أبو الحسين مسلم بن حجاج بن مسلم القشيري النيسابوري، (ت ٢٦١)، صحيح مسلم (بشرح النووي )، ط ٢ سنة ١٩٧٨م، دار الفكر، بيروت، م/٦ج/١١ص،١٧٧ (ح١٦٨١).

[56] أبـو داود، سـليمان بن الأشـعث الـسجـستاني، (ت ٢٧٥هـ)، سـنن أبي داود، نـــشر دار الـفكر، ج/٢ص٦٠٢ .

[57] السمرقندي، علاء الدين السمرقندي، )ت ٥٥٣هـ(، تحفة الفقهاء، ط١ سنة ١٤٠٥هـ ١٩٨٥م، دار الكتب العلمية، بيروت، .٣/١١٨ الرملي . نهاية المحتاج، .٧/٧٩

ب- د غره د لازمېدلو شرطونه:

1- کوم جنين چې له منځه تللی نو باید مسلمان وي یعنی د مسلمان پلار له نطفې د مسلمانې مور په رحم کې مستقر شوي وي؛ ځکه د اهل الحرب او مرتد جنين مهدر الدم( د وینو تویول یې جایز دی) وي او پکې دیت او غره نه لازمیږي، او که چېرې د اهل ذمه وو جنين وي نو که اهل کتاب(یهودی او نصرانی) وه نو د احنافو[58] او ظاهریه[59] وو مذهب مطابق بشپړ غره لازم کیږي او د مالکیه وو[60]، حنابله وو[61] او شافعیه وو[62] د مذهب پر اساس وربانډې د مسلمان د غزه نیمایی وربانډې لازم کیږي او که چېرې په اهل ذمه وو کې مجوسی وو نو احناف د اهل کتاب د جنين په توکه ورسره تعامل کوي او جمهور فقهاء بیا وایی چې د مجوسي غره ۴۰ درهمه ده ځکه د مجوسی دیت د مسلمان د دیت په پرتله ۱۵/۱ برخه دي. او د زنا جنين د مور تابع ګڼل کیږي او غره یې ۱۰/۱ برخه په اتفاق سره ده.[63]

2- جنين باید حر یا آزاد وي که هغه حقیقةً وي او یا هم حکماً؛[64] او د جنين جنسیت یعنی مذکر او مؤنث په غره کې کوم تأثیر نلري او غره یې یو شان دی.[65]

3- جنين په هغه وخت کې د مور له رحم څخه جلا شي چې د ژوندي پاتې کیدلو امکانات یې نه وي یعنې شلو اونیو له بشپړ کیدلو څخه مخکې.

---

[58] حاشية ابن عابدين، ٦/٥٩٠.

[59] ابن حزم. المحلى، ١١/٣٢.

[60] الحطاب. مواهب الجليل، ٦/٢٥٨.

[61] ابن قدامة. المغني، ٩/٥٤١،٥٣٦.

[62] قليوبي، أحمد بن أحمد بن سلامة القليوبي، )ت ١٠٦٩هـ(، حاشية قليوبي (على شرح جلال الدين المحلي لمنهاج الطالبين)، ط ،٤ دار الفكر، بيروت، ٤/١٦٠.

[63] ابن الهمام. شرح فتح القدير، ١٠/٣٠٥. عليش، محمد بن أحمد بن محمد عليش، (ت ١٢٩٤)، (١٩٨٩م) .منح الجليل (على مختصر خليل، دار الفكر، بيروت، ٣/٣٦٠. الرملي . نهاية المحتاج، ٨/٣٨٢. المرداوي :علاء الدين علي بن سليمان المرداوي (ت٨٨٥)-الانصاف في معرفة الراجح من الخلاف على مذهب الامام أحمد بن حنبل – ط -٤ سنة ١٤٠٦/١٩٨٦- دار إحياء التراث العربي.١٠/٧٢,

[64] زيدان، المفصّل في أحكام المرأة، ط٢ سنة ١٤١٥هـ ١٩٩٤م، مؤسسة الرسالة، بيروت، ج/٥ ص.٣٩٣

[65] ابن قدامة. المغني، ٩/٥٤٥.

ج- د غرې قیمت یا ارزښت:

ټول علماء پر دې اتفاق نظر لري چې غره یو غلام، کنیزه او یا هم د دوی قیمت دی[66] او پر همدې توګه ټول علماء اتفاق نظر لري چې د غره د آزاد مسلمان د دیت شلمه (نصف العشر) برخه ګڼل کیږي.

د- غره باید څوک ورکړي؟

دا چې غره پر چا لازمه ده یعنی په جانی( د جهاض پر مرتکب)  یا هم د هغه پر عاقله؟[67] په دې اړه علماء بېلابېل نظرونه لري، شافعی مذهب علماء وایی چې غره د جانی پر عاقله باندې لازمه ده او ځینې  احناف، مالکیان، ځینې شافعیان، حنابله او ظاهری مذهب وایی چې غره پر جاني باندې لازم دي پر دې شرط چې جانی د جنین مور نه وي نو که چیرې اجهاض د مور له خوا په قصدی توګه تر سره شوی وه نو غره یې پر عاقله باندې لازمه ده او که په خطا توګه د مور لخواه اجهاض تر سره شو نو وربانديې څه نشته ځکه کوم خفګان چې مور ته د جنین له منځه تلو کې منځ ته راغلی د جزاء په توګه ورته کفایت کوي.[68] او دا نظر ظاهراً لکه څنګه چې ځینو معاصر علماوو هم تائید کړي، راجح او منطقی هم ښکاري.

هـ - غره باید چاته ورکړل شي؟

اکثریته علماء وایي چې غره د میراث په شان باید د جنین ورثې ته ورکړل شي او نو لکه څنګه چې میراث تقسیم کیږي نو په همغې توګه غره هم تقسیم کیږي، توپیر نلري چې جنین مذکر وي او که مؤنث، مخکې له روح څخه وي او که وروسته لکه څنګه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د جنین د اجهاض په مرتکب باندې حکم وکړل او غره یې بیا د جنین ورثې ته

---

66 السرخسي. المبسوط، ٢٦/٩٠. ابن رشد. بداية المجتهد، ٢/٣١٢. الشربيني. مغني المحتاج، ٤/١٠٣. ابن قدامة. المغني، .

67 عاقله د انسان د پلار له خپلوان ته ویل کیږي لکه ورونه، ترونه او د هغه زامن او داسې نور چې ورته عصبات هم ویل کیږي.

68 حاشية ابن عابدين، ٦/٥٩٠. مالك. المدونة الكبرى. ٤/٤٨١، زيدان، المفصّل، ٥/٤٠٣.

ورکړه.[69] ځینې علماء وایي چې غره باید مور ته او نور وایې چې باید چې پلار او مور ته ورکړل شي[70] اما لومړی نظر راجح دی.

**دوهم- کفاره**

کفاره په لغت کې د کفر له لفظه اخیستل شوې چې په معنی د پټولو دی نو کفاره ته ځکه کفاره وایي چې د انسان گناه پټوي او محوه کوي یې. او په شرعی اصطلاح کې هغه مال، روژه او یا د غلام آزادول دي چې د یوه خاص سبب لپاره لازمیږي.[71] او یا هم کفاره هغه عبادت او شرعی مجازات دی چې الله تعالی د ځینو کړنو په کولو سره الزامي کړي تر څو له یوې خوا د انسان گناهونه ورباندې معاف شي او له بلې خوا یو ډول زجر او مجازات هم دی تر څو انسان بیا د هغې کړنې نه ځان وساتي.

د کفارې مشروعیت پر قرآن کریم باندې ثابته شوې لکه څنگه چې الله تعالی په سورة النساء کې د قتل د کفاره په اړه فرمایلی: وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَن يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَأً وَمَن قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰ أَهْلِهِ إِلَّا أَن يَصَّدَّقُوا.[72] الآیة ژباړه: او هیڅ مومن لره دا حق نشته چې بل مومن قتل کړي مگر دا چې په خطا سره وي، او چا چې مومن په خطا سره قتل کړ، نو د یو مومن څټ (مریي یا وینځې) ازادول لازم دي او دیت دی چې د هغه (مقتول) وارثانو ته به سپارلی شي، مگر دا چې هغوی (وارثان) یې معاف کړي.

پر قتل کې کفاره فرض ده لکه څنگه چې پورتنی آیت کې ورته اشاره شوې ده او دا چې اجهاض یا د جنین له منځه وړل او ددې آیت په حکم کې شاملیږي او که نه علماء بېلابېل نظریات لري چې په لنډه توگه ورته اشاره کوو:

[69] ابن قدامة. المغني، ٩/٥٤٢.

[70] ابن حزم. المحلى، ١١/٣٣. حاشية الدسوقي، ٤/٢٦٩.

[71] بجيرمي، سليمان البجيرمي، )ت ١٢٢١هـ(، (١٣٨٨ه). حاشية البجيرمي على الخطيب (المسماة: تحفة الحبيب على شرح الخطيب)، مطبعة البابي الحلبي، القاهرة، ٤/١٣.

[72] سورة النساء آية ٩٢

شافعی مذهب وايي چې په اجهاض کې کفاره واجبه ده.[73]او حنابله وايی چې جنین باید د انسان په شکل باندې وي یعنی په ډیرو لومړنیو مراحلو کې نه وي او ظاهریه وایی چې په جنین باید ۱۲۰ ورځې د مور په رحم کې تېرې شوي وي، احناف وايي که چېرې جنین د جنایت پر واسطه سقط شوي او ژوندی وو بیا مړ شو نو کفاره پکې شته او که مړ وزېږېدو نو کفاره په کې نشته ځکه کفاره الله تعالی د ژوندي انسان په وژلو کې واجبه کړې او د جنین ژوند د مور په رحم کې حقیقی نه دي بلکې حکمی ګڼل کیږي.[74]

د جنین د منځه وړلو دلایلو ته په کتو سره داسې ښکاري چې څوک جنین له منځه وړي نو مکلف دي چې کفاره ورکړي ځکه که جنین نفس نه دي نو د نفس لومړی حالت دی او بل دا چې د کفاره ورکول یو نوع مجازات او پر مرتکبه عمل د پښېمانی یوه نښه هم بلل کیږي.

**دریم- تعزيري مجازات**

تعزیر په لغت کې منع کولو او ادب ورکولو ته وایي، او تعزیر ته ځکه تعزیر وايي چې د جرم د تکرار څخه مجرم منع کوي او هغه ته ادب ورکوي. او په شرعي اصطلاح تعزیر د جراېمو هغه سزا ته ویل کیږي چې اندازه یې شریعت تعیین کړې نه ده او قاضی یا حاکم ته یې صلاحیت ورکړی توپیر نلري که دغه جرائم په حقوق الله پورې اړه ولري یا هم حقوق العباد پورې. نو اجهاض هم یو لوي جرم ګڼل کیږي او مرتکب ته یې باید سزا ورکړل شي تر څو د نورو لپاره عبرت او د ده لپاره مجازات وي، نو د اجهاض تعزیري جزاء د افغانستان د جزاء کود په رڼا کې په راتلونکې بحث کې شرح کیږي.

[73] فرض او واجب د جمهوروعلماء پر نزد په یوه معنی راځي او احناف وایی چې فرض هغه دي چې په قطعی دلایل ثابت وي او واجب هغه دي چې په ظنی دلیل سره ثابت شوي وي.

[74] الکاساني. البدائع، ۷/۳۲٦. السرخسي. المبسوط، ۲٦/۸۸. مالك. المدونة، ٤/٤٨٢. ابن جزي. القوانين الفقهية، ص.۳٤٨النووي. روضة الطالبين، ۷/۲۱٦. ابن حزم. المحلی، ۱۱/۳٥.

### څلورم- د میراث څخه محروم کیدل

څوک چې د اجهاض مرتکب کیږي نو د میراث نه هم محرومیږي ځکه اجهاض قتل دی او پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلی: لیس للقاتل میراث[75] ژباړه: د قاتل لپاره میراث نشته.[76]نو که څوک جنین له منځه یوسې د جنین د میراث او غرې څخه هم محرومیږي توپیر نه لري که دا پلار وي یا مور او یا هم نوره ورثه.

### دوهمه برخه: د جنین د اسقاط مجازات د افغانستان د جزاء کود په رڼا کې

د افغانستان د جزاء کود په اووم باب کې د اشخاصو په حیات، جسمی او معنوي تمامیت پورې اړوند جرمونو تر عنوان لاندې په پنځم فصل کې د اسقاط جنین او د هغه د تعزیري مجازاتو په اړه بحث کړي، لکه څنګه چې کود جزاء په دوهمه ماده په لومړۍ فقره کې وایی: دغه قانون تعزیری جرمونه او جزاګانې تنظیموي. او د همدې مادې په دوهمه فقره کې وایی: د حدودو، قصاص او دیت د جرمونو مرتکب د اسلام د شریعت د حنفی فقهې له حکمونو سره سم مجازات کیږي. او په همدې توګه په پنځه سوه نه شپېتمه ماده په دوهمه فقره کې هم راغلی چې:که چېرې د جنین د اسقاط جنین په جرم کې د دیت د اقامې شرایط بشپړ نشي یا په یوه ډول نه یوه ډول ساقط شي، مرتکب ددې فصل له حکمونو سره سم، مجازات کېږي.ظاهراً د دیت نه موخه په دې ماده کې غره ده چې په مخکینۍ مبحث کې ورباندی په تفصیلی توګه بحث ترسره شو.

د افغانستان د جزاء کود د اسقاط لاملونه په جدا ګانه توګه بیان کړي او د هر یوه لپاره یې بېلابېل مجازات هم ټاکلی، نو که چیرې اسقاط د ضرب یا وهلو په واسطه تر سره شي نو مجازات یې تر اووکلونو پورې په طویل حبس[77]، محکومېدل دي لکه څنګه چې ۵۷۰ ماده

---

[75] سنن أبي داود، ج/٤ص١٨٩ (ح٤٥٦٤) ،

[76] ابن قدامة. المغني، .٩/٥٣٧ وقد اختلف الفقهاء في صفة القتل المانع من الميراث. فيرى بعضهم أنه العمد العدوان. وآخرون أنه ما أوجب عقوبة جسدية أو مالية، وآخرون أنه ما آان بغير حق. وغيرهم يرى مطلق القتل حسبما نص عليه الحديث الشريف. وقد مِلت الى أنه آل قتل بغير حق. واالله تعالى أعلم (انظر: درادآة، ياسين أحمد إبراهيم،الميراث في الشريعة الإسلامية، مؤسسة الرسالة، عمان، ط٣ ١٤٠٧هـ، ١٩٨٦م،ص١٢٨ وما بعدها).

[77] د جزاء د کود د ١٤٧ مادې د ٣ فقرې له مخې طویل حبس له پنځوکلونو څخه زیات تر شپاړسو کلونو پورې دي.

وايي: هغه کس چې د حامله ښځې جنين عمداً د ضرب يا بل هر ډول اذيت له لارې اسقاط کړي، تر اووکلونو پورې په طويل حبس، محکومېږي.

او که چېرې اسقاط د درملو د ورکولو له امله او په قصدی توګه وي نو مجازات يې متوسط حبس[78] دي لکه څنګه چې ۵۷۱ ماده وايې: (۱)هغه کس چې عمداً د درملو د ورکولو يا د نورو وسايلو د استعمال په وسيله د جنين د اسقاط موجب شي، که څه هم چې د جنين اسقاط د ښځې په رضايت سره صورت موندلی وي، په متوسط حبس محکومېږي. په همدې توګه د يادې مادې په دوهمه فقره کې د متخصص کس په واسطه د اسقاط او مجازاتو په اړه وايې: که چېرې اسقاط کوونکی طبيب، جراح، درمل جوړوونکی يا قابله وي، مرتکب له دووکلونو څخه زيات په متوسط حبس محکومېږي. د يادې مادې دريمه فقره د درمل ورکولو کې د اشتباه او يا حسن نيت په صورت کې وايې: که چېرې درمل حامله ښځې ته په حسن نيت يا په اشتباه سره ورکول شوې وي، مرتکب له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا، محکومېږي.

لکه څنګه چې د جنين له منځه وړل نورو ته جواز نلري په همدې توګه حامله ښځې(د جنين مور) ته هم جواز نلري او که جنين بغير له عذر له منځه وړي نو په قصير حبس[79] يا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افعانيو پورې په نغدې جزا محکومېږي، لکه څنګه چې ۵۷۲ ماده وايې: که چېرې حامله ښځه د عمل په پايله د علم با وجود عمداً د درملو په خوړلو يا د نورو وسايلو په استعمال راضي شي يا خپله عمداً پدې عمل لاس پورې يا بل شخص ته د نوموړو وسايلو د استعمال اجازه ورکړي او د هغو له امله د جنين اسقاط واقع شي، په قصير حبس يا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افعانيو پورې په نغدې جزا محکومېږي.

د افغانستان د جزاء د کود د ۵۷۳ مادې له مخې د جنين داسقاط د جرم پيلول[80] د مجازات وړ نه دي يعني تر څو چې پايله لاس ته نه وي راغلی نو مرتکب نه مجازات کيږي، لکه څنګه

---

[78] د جزاء د کود د ۱۴۷ مادې د ۲ فقرې له مخې متوسط حبس له يوۀ کاله څخه زيات تر پنځو کلونو پورې دي.

[79] د جزاء د کود د ۱۴۷ مادې د ۱ فقرې له مخې قصير حبس له دريو مياشتو څخه تر يوۀ کاله پورې دي.

[80] د جرم د پيل په اړه د جزاء کود ۴۷ ماده وايې: په جرم پيل د جنايت يا جنحې د ارتکاب په قصد د عمل په اجراء له پيلولو څخه عبارت دی پداسې ډول چې د هغه آثار د فاعل له ارادې څخه د بهر اسبابو په پام سره متوقف يا خنثي شوي وي.

چې ۵۷۳ ماده وايي:د جنين اسقاط په جرم پيل د مجازات وړ نده، او که چېرې اسقاط د ښځې د عقيم کېدو لامل شي نو په طويل حبس تر اوو کلونو پورې محکوميږي لکه څنګه چې ۵۷۴ ماده وايي:که چېرې د جنين اسقاط د ښځې په عقيم کېدو تمام شوې وي، مرتکب ددې فصل د پيشبيني شوې جزا په اکثرحد محکومېږي. او د يادونې وړه ده چې د پنځم فصل تر ټولو زياته سزا طويل حبس تر اوو کلونو پورې دي.

د افغانستان جزاء کود اسقاط جنين جرم په مطلقه توګه ذکر کړې يعنې په جنين کې د روح د پوکېدلو موضوع يې مطرح کړې نه ده، او ياد مجازات يې د جنين د اسقاط لپاره که هغه د جنين د تولد له طبيعې مودې څخه مخکې رايستل وي يا د درملو يا جراحي عملياتو په واسطه سقط کول وي که هغه مخکې له روحه وي يا وروسته له روحه جرم ګڼل شوي او د هغې ترسره کونکې د مجازاتو وړ دی.

## د څېړنې پایلې

د دې څېړنې د لیکلو او څېړلو په لړ کې لاندې پایلې لاس ته راغلی دي:

1. اجهاض د ښځې د حمل له منځه وړل او یا هم د طبیعی مودې څخه مخکې له رحم نه رایستل دي، په قصد او بغیر له اړتیا څخه.
2. کله چې د نارینه سپرم د ښځې له تخمې سره یو ځای شي نو نطفه ورته ویل کیږي او بیا کله چې نطفه رحم ته ورسیږي نو علقه شي بیا مضغه بیا هډوکی بیا هډوکو ته غوښه وراغوستل کیږي بیا په کې روح پو کیږي.
3. په جنین کې روح وروسته له هغې پو کیږي چې خلقت او پیدایښت یې پشپړ شي، چې غالباً وروسته له ۴۰ ورځو ترسره کیږي.
4. که د جنین پاتې کېدل د مور په رحم کې د مور لپاره یقینی خطر وو نو د جنین سقط کول د فقهی او قانونی له لحاظه مشروع کړنه بلل کیږي.
5. د احتمالی خطرونو او یا هم په جنین کې د خلقي عیبونو پر اساس د جنین سقط مخکې له روح څخه جایز او وروسته له روح څخه جایز ندی.
6. د جنین له منځه وړلو مجازات د شریعت په رڼا کې غره، کفاره، د میراث څخه محرومېدل او تعزیر دی.
7. د افغانستان د جزاء کود پراساس د جنین له منځه وړل جرم دی او مرتکب یې د مجازاتو وړ دي که هغه مور وي که متخصص داکتر اویا هم بل څوک.
8. د افغانستان د جزاء کود پر اساس د جنین د سقط مجازات د حالاتو په توپیر سره طویل حبس، متوسط حبس، قصیر حبس او یا هم نقدي جریمه دی.

**About the Author**

**Mr. Abdullah Fazelyar**, *Assistant Professor, Faculty of Law, Kardan University, Kabul Afghanistan.* <*a.fazelyar@kardan.edu.af* >